مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۹/۱۰

# غزل

سوځي مې مخ د اور باران مې کړم
زه غذابونو د اسمان مې کړم

لکه يتيم خورمه ځپيږي په مخ
په ژړا لوند ځيرې ګريوان مې کړم

زما وجدان چې ډېر په ننګ مئين دی
وساتم ننګ او که وجدان مې کړم؟

يو چې راځپل کړم، بل پردی شي رانه
چې بل راځپل کړمه که ځان مې کړم؟

کرښې د بخت مې کړه بدلې خدايه
ژوبلي راپاتې، هر ارمان مې کړم

چاته د خوږ زړګي پرهر وښييم
زه د ناپوه طبيب درمان مې کړم

يه پسرليه، پسرلی نه ښکاري
اوږده خزان د ګلستان مې کړم

مصطفی پسرلی
09/09/2019



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ